# د معراج شپه

## او دیدارِ الٰهی

**27-January-2025**



د معراج د شپې د اجتماع بیان

(For Islamic Brothers)

د معراج د شپې د اجتماع بیان

(28 جنوري، کال 2025ء مطابق: 27 رَجَب شریف، کال 1446ھ) (د ګل او نهې پهٔ مینځنۍ شپهٔ)

# د معراج شپه او دیدارِ الٰهی

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د معراج پهٔ شپه د الله پاک دیدار
- ـــ د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم فراختیا
- ـــ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د محبت برکت
- ـــ پهٔ خوب کښې د الله پاک د دیدار کولو وظیفه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، پۀ صفحه: 24، حديثِ پاک نمبر: 24 دے:

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

كُلُّ كَلَامٍ لَا يُذْكَرُ اللهُ تَعَالٰى فِيْهِ فَيُبْدَاُ بِهٖ وَبِالصَّلَاةِ عَلَيَّ فَهُوَ مَمْحُوْقٌ مِنْ كُلِّ بَرَكَةٍ

**ترجمه:** هره هغه خبره کومه چې د **الله پاک** د ذِکر او پۀ ما باندې د درود وئيلو نه بغير شروع کړے شي هغه د هر برکت نه محرومه او خالي ده۔ (1)

| | |
|---|---|
| نبی کی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو | محبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر ، درود پڑھو |
| خدا تو بھیجے ہے صَلُّوْا وَ سَلِّمُوْا کا خطاب | تم ایسے بیٹھے ہو کیوں بے خبر، درود پڑھو |
| جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیشتر، درود پڑھو |

[1]... القول البديع، صفحه:122۔

نبی کے صدقے تمہاری مراد ہو حاصل | دُعا کے اوّل و آخر اگر درود پڑھو
ہزار درد کو یہ اِک دوا کفایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خطر درود پڑھو (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ (2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **الله پاک** د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پۀ اَدب به کښينم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! **ترمذي شريف** کوم چې د حديثِ پاک ډير مشهور اَلْحَمْدُ لِله! نن **د معراج شپه** ده۔ خومره ايمان تازه کوونکې خبره ده---!! پۀ ننۍ شپه زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معراج عطا شوے وو۔ سُبْحٰنَ الله!

ہیں عرشِ بَریں پر جَلوہ فِگَن محبوبِ خُدا سُبْحٰنَ اللہ!
اِک بار ہُوا دِیدار جسے سَو بار کہا سُبْحٰنَ اللہ!
طالِب کا پتہ مطلوب کو ہے مطلوب ہے طالِب سے واقف
پَردے میں بُلا کر مِل بھی لئے پَردہ بھی رَہا سُبْحٰنَ اللہ!

1...نورِ ایمان، صفحہ:56–57ملتقطاً۔
2...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

ہے عَبۡد کہاں معبود کہاں مِعۡرَاج کی شب ہے راز نِہاں
دو نُور حجابِ نُور میں تھے خود ربّ نے کہا سُبۡحٰنَ اللهُ!
سمجھے حامِدؔ اِنسان ہی کیا یہ راز ہیں حُسن و اُلفت کے
خالق کا حَبِیۡبِی کہنا تھا خَلقت نے کہا سُبۡحٰنَ اللهُ! (1)

د مِعراج د ذِکر اوریدو سره د عاشقانو پهٔ مخونو باندې خوشحالي راشي، خوشحالي وي چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناشنا شان والا دے چې **الله پاک** حضرت جبریلِ امین عَلَیۡهِ السَّلَام راولیږلو او خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یې پخپله راوغوښتلو او ✿ د انبیاؤ د امامت سعادت یې ورته عطا کړلو ✿ د اسمانونو سیل یې پرې هم وکړو ✿ د جنَّت مشاهدات یې پرې هم وکړل ✿ بیا د تولو نه زیات دا چې رَبِّ کائنات خپل خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته خپله جلوه هم وښودله ✿ او خاص قُرب ته یې وغوښتلو او بغیر د پردې نه یې ورته د کلام کولو شرف هم عطا کړو-

یہ حکم مِلا رُوحِ امیں کو شبِ معراج | جبریل ابھی لا مرے پیارے کو بلا کر
سِدْرہ پہ تھکے بازوئے جبریل تو آگے | رَفْرَف نے انہیں چھوڑ دیا عرش پہ لا کر
پھر عرش سے پار اپنے قریں ان کو بُلایا | سب کچھ دیا محبُوب کو دِیدار دکھا کر
یہ حکم مِلا رُوحِ امیں کو شبِ معراج | جبریل ابھی لا مرے پیارے کو بلا کر

## چرته تقاضې د وِصَال وې---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې دا څومره ناشنا شان دے- ✿ پهٔ زمکه او اسمان کښې خوشحالئ دي ✿ جنَّت ښکلے کولے شي ✿ پهٔ مسجدِ اقصیٰ کښې

1... بیاضِ پاک، صفحه:33۔

انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام راجمع کولے شي ❁ پۀ اسمانونو کښې رونق دے ❁ فرښتے د هرکڼلي د پاره راجمع کيږي، غرض دا چې پۀ زمکه او اسمان کښې خوشحالي دي او د چا د پاره چې دا ټول اهتمام کيږي، هغۀ ښکلے محبوب، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ سکون سره پۀ خپله بستره باندې ارام فرمائي-

قربان میں شان و عظمت پر، سوئے ہیں چین سے بستر پر
جبریلِ امیں حاضِر ہو کر معراج کا مژدہ سُناتے ہیں

سيدي اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللهِ عَلَيْه هم ډيره ښکلې خبره ليکلې ده:

تَبَارَكَ الله ہے شان تیری، تجھی کو زیبا ہے بےنیازی
کہیں تو وہ جوشِ لَنْ تَرَانِي، کہیں تقاضے وِصَال کے تھے

د **الله پاک** شان ډير اوچت دے، هغۀ کريم مالِک بے نيازه دے، دا خو هم د بے نيازي مثال دے چې حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ کوهِ طُور باندې دے، د کلام کولو سعادت حاصلوي، پۀ زړۀ کښې يـې د ديدار شوق راوچتيږي، د **الله پاک** پۀ محبت کښې عرض کوي:

| | |
|---|---|
| رَبِّ اَرِنِيْۤ اَنْظُرْ اِلَيْكَ ؕ<br>(پاره:9، سورۀ اعراف:143) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زما رَبّـه! ما ته خپله نظاره وښايه چې زۀ ستا ديدار وکړم- |

الله! الله! حضرت سيدنا موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام سوال کوي چې مولیٰ! خپله جلوه راښکاره کړې- جواب ميلاوَيږي:

| | |
|---|---|
| لَنْ تَرٰىنِيْ (پاره:9، سورۀ اعراف:143) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: (الله) وفرمائيل: : ته به ما [پۀ دنيا کښې] کله هُم اُونه ليدلے شې. |

د الفاظو ښکلا ته وګورئ! دا يـې اونه فرمائيل چې اے موسیٰ! زما ديدار نشي کيدے بلکې اوئې فرمائيل:

تاسو به د **الله پاک** د نُور تجلي اونه ليدلے شئ ځکه چې د **الله پاک** د نُور ليدلو د پاره

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نظر پکار دے، د دې تجلی برداشت کولو د پاره د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړهٔ ضرورت دے۔

اَللّٰهُ اَكْبَر! دا شان دے زما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام چې کوم نعمت غوښتلو نهٔ میلاؤېدو، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یــې د بسترې نه راپاخولو او خاص خَلوت ته یــې وغوښتلو او بغیر د غوښتلو نه یــې هُغه نعمت عطا کړو۔

| | |
|---|---|
| کیا بَنَا نامِ خُدا اَسْرا کا دولہا نُور کا | سَر پہ سہرا نُور کا، بَر میں شہانہ نُور کا |
| بَزمِ وحدت میں مزا ہو گا دوبالا نُور کا | مِلنے شَمعِ طُور سے جاتا ہے اِکّا نُور کا |

وضاحت: سُبْحٰنَ الله! د الله پاک د ملاقات د پاره د معراج پهٔ شپه د الله پاک حبیب څومره سینګار شوے دے چې پهٔ سر مبارک باندې یــې نوراني سهرا، پهٔ بدن مبارک باندې یــې نوراني لباس مبارک دے، الله! الله! هُغه نوراني جلوه چې د هغې یوه تجلي په کوهِ طور پرېوتې وه، د کومې جلوې چې حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د لیدلو مشتاق وو، نن نُورِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هُم هغه نورِ اِلٰهی د ملاقات د پاره حاضرېږي، یعنې په دغه شپه به د وحدت د دغه محفل یعنې د لامکان ښکلا او خوندونه یو په دوه زیات شوي وي۔

## زما د سرکار شان ډېر اوچت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِله! دا اوچت شان هم زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے۔ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ داسې شان سره معراج وکړو، دا زمونږ د غلامانو د پاره هم د فخر خبره ده۔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څومره ښکلې خبره لیکلې ده:

| | |
|---|---|
| کیسے آقاؤں کا بندہ ہوں رضا | بول بالے مری سرکاروں کے |

وضاحت: یعنې اے رضا! د الله پاک پهٔ فضل سره د څومره اوچتې مرتبےوالا د آقا

غلامي مې نصيب شوې ده چې صرف پۀ زمکه نۀ، پۀ اسمانونو باندې، صرف پۀ اسمانونو باندې هم نۀ، پۀ سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰی باندې، صرف په سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰی باندې هُم نۀ، پۀ مقامِ مُستَوٰی باندې، صرف پۀ مقامِ مُستَوٰی هُم نۀ، پۀ عرشِ عُلیٰ باندې او صرف پۀ عرشِ عُلیٰ باندې هُم نۀ تر لامکانه پورې چې کوم طرف ته هم ګورئ! هر طرف ته صرف زما د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جَشن دے۔

فرش پہ تازہ چھیڑ چھاڑ، عرش پہ طُرفہ دُھوم دھام | کان جدھر لگائیے! تیری ہی داستان ہے

## د مِعراج پۀ شپه د اللّٰه پاک ديدار

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د معراج سفر د ډېرو حيرانوونکو واقعاتو مجموعه ده ❀ پۀ دې سفر کښې رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام له جَمعه هم ورکړله ❀ د اسمانونو سيل يې هم وکړو ❀ جنَّت ته يې د ديدار شرف هم عطا کړلو ❀ د دوزخ او د دوزخيانو عذابونه يې هم وليدل، داسې نورې هم ډېرې واقعې دي کومې چې د معراج پۀ شپه رامخې ته شوې- البته د دې سفر مبارک چې د ټولو نه کومه اهمه مرحله ده، پۀ اصل کښې چې د څۀ د پاره دا سفر وشو، هغۀ د محبوبِ خُدا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اللّٰه پاک** پۀ بارګاه کښې حاضري ده- **رَبِّ کريم پۀ دغه شپه خپل خوږ محبوب** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **خپل قُرب خاص ته وغوښتلو او بغير د حجاب (يعني بغير د څۀ پردې نه يې) پۀ ويښه، د سَر پۀ سترګو خپل ديدار ورکړو۔**

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي:

بندہ ملنے کو قریبِ حضرتِ قادِر گیا | لمعۂ باطِن میں گمنے جلوۂ ظاہِر گیا
اللہ! یہ عُلُوِّ خاص عبدیت رضا | بندہ ملنے کو قریبِ حضرتِ قادِر گیا

وضاحت: **لمعه**:يعني نور-**باطن**:يعني پټ-د **اللّٰه پاک** نُور د باطن نُورِ دے، پټ دے،

هرې سترګې د دې نُور نظاره نشي کولے خو د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور کوم چې **الله پاک** د خپل نُور نه جوړ کړے دے، دا نُور ظاهر دے، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُم به د هغوئي د زيارت سعادت حاصلولو- د شعر مطلب دا دے چې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شته نو د **الله پاک** بنده، عَبد دے خو شان ته يـې وګورئ! مقام ته يـې وګورئ! عزت او مرتبے ته يـې وګورئ! د محبوبيت شان ته يـې وګورئ! چې د **الله پاک** سره د ملاقات د شرف موندلو د پاره تشريف وړي-

| | |
|---|---|
| اللہ کی رحمت سے سرور جا پہنچے دنا کی منزل پر | اللہ کا جلوہ بھی دیکھا، دیدار کی لذّت پاتے ہیں |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د الله پاک د ديدار بيان پهٔ قرآنِ کريم کښې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **الله پاک** پهٔ حُضُور کښې خاص خلوت (يعني خاص تنهايي) ته څنګه ورسيدلو، هلته څهٔ وشول، پهٔ قرآنِ کريم کښې دا ډير پهٔ ښکلي انداز کښې ارشاد فرمائي- راځئ چې واورو:

| | |
|---|---|
| فَاسْتَوٰىۙ ⑥ وَ هُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰىؕ ⑦ (پاره:27، سورهٔ نجم:76) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بيا هغهٔ اراده ووفرمائيله- پهٔ داسې حال کښې چې هغهٔ د اسمان د ټولو نه پهٔ اوچته غاړه باندې وو- |

اُفُقِ اَعْلٰی يعني د اسمانونو د ټولو نه اوچته غاړه. مطلب دا چې کله د مِعراج پهٔ شپه خوږ مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُفُقِ اَعْلٰی ته ورسيدلو نو د **الله پاک** تجلي د هغوئي طرف ته متوجه شوه- [1]

بيا څهٔ وشول؟

1...صراط الجنان، تحت الآیة۔

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰی ۙ ﴿۸﴾ (پارہ:27، سورۂ نجم:8)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** بیا هٔغه نظاره [جلوه] نزدې شوله بیا نوره زیاته نزدې شوله۔

یعني د **الله رَبُّ الْعِزَّت** لُطف او رحمت خپل حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته نزدې شولو او دا نزدې والے یې نور زیات کړو. (1)

مرحبا! مرحبا! صاحبِ معراج
رحمتِ کبریا! صاحبِ معراج
لطفِ حق ہو گیا! صاحبِ معراج
شاہِ ہر دو سرا! صاحبِ معراج
تم کو معراج کا! صاحبِ معراج
حق سے مژدہ ملا! صاحبِ معراج
ہو مبارک شہا! صاحبِ معراج
یا شفیعَ الوریٰ! صاحبِ معراج

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سِدرة الـمنتهیٰ نه مخکښې سفر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حُضُور مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **الله پاک** د نُور جلوې ته نزدې شو، دا قُرب د **سِدرَةُ الـمُنتَهیٰ** نه شروع کیږي۔ چې کله خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سِدرَةُ الـمُنتَهیٰ نه وړاندې لاړو نو حضرت جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام هلته پاتې شو او د مخکښې تللو نه یې مَعذِرت وکړو۔ محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: یا جبریله! یَا جِبْرِیْلُ! اَفِیْ مِثْلِ هٰذَا الْمَقَامِ یَتْرُكُ الْخَلِیْلُ خَلِیْلَهٗ اے جبریله! آیا په داسې ځائے کې هم دوست خپل دوست پریږدي؟ عرض یې وکړو: اِنْ تَجَاوَزْتُهٗ اِحْتَرَقْتُ بِالنُّوْرِ یعني یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زهٔ که چرې د دې نه مخکښې لاړم نو په نُور به وسوزیږم۔ (2)

آگَر يَكْ سَرِ مُوئے بَرتَر پَرَم
فَرُوغِ تَجَلِّي بَسَوزَد پَرَم

---

1...صراط الجنان، پارہ:27، سورۂ نجم، زیر آیت:8، جلد:9، صفحہ:550۔

2...مواہب اللدنیه مع شرح زرقانی، ج:8، ص:195۔

وضاحت: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! كه د دې ځائے نه يو قدم هم مخكښې لاړم نو پۀ انوارو او تجلياتو به زما وزرې وسوزيږي- زما بس دغه انتها ده-

اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپل د نعتونو پۀ ديوان **وسائلِ بخشش** كښې د دې منظر كشي څۀ داسې كوي!

جبریل ٹھہر کر سِدْرہ پر بولے جو بڑھے ہم ایک قدم
جل جائیں گے سارے بال و پَر اب ہم تو یہیں رہ جاتے ہیں

او چا تري څۀ داسې نظم جوړ كړے دے!!!

نور نے تلووں کو سہلا کر جگایا خواب سے
یُوں ہوئی سرکار کی مِعْراجِ جسمانی شروع
پہلے تو وہ ہمرکابِ سرورِ کونین تھا
ہو گئی جبریل کی سدرہ سے حیرانی شروع

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دلته نه معلومه شوه چې د سِدرَةُ الْمُنْتَهٰى نه وړاندې خاص نُوراني تجليات شروع شول، لكه چې دا د خاص قُرب شروع وه، خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې تجلياتو راتير شو، د **الله پاک** پۀ حُضُور كښې يـې خاص قُرب ته تشريف يوړلو-

## د صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اواز پۀ شان اواز

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا د **دَنٰى** بيان دے يعنې حضور مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله پاک** د نُور جلوې ته نزدې كيږي، دا قُرب پۀ كوم شان سره وشو، نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د سِدره نه د تيريدلو سره زۀ پۀ نُور كښې واچولے شوم، **زۀ د 70 زره حجابونو نه تير شوم او مخكښې لاړم-** دلته ما ته څۀ تنهائي محسوس شوه- هٰغه وخت ما يو اواز واوريدو كوم چې د حضرت ابو بكر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اواز پۀ شان وو-(1)

1...مواہب اللدنیه مع شرح زرقانی، ج:8، ص:195۔

ووئیلے شو: قِفْ یَا مُحَمَّد! اِنَّ رَبَّكَ یُصَلِّیْ یعنې اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! انتظار وکړئ! ستاسو رَبّ صلوٰۃ فرمائي- رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هُم پۀ زړۀ کښې سوچ وکړو: اَرَبِّیْ یُصَلِّیْ؟ آیا زما رَبّ صلوٰۃ فرمائي؟ ووئیلے شواے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! **هغۀ الله پاک دے کوم چې پخپله هم او د هغۀ فرښتے هم پۀ تاسو باندې دُرُود لیږي-** [1]

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هغوئي هُغه ذِیشان دے چې د هغوئي رَبِّ کریم، د ټولو جهانونو خالِق او مالِک پۀ هغوئي باندې درود لیږي- بیا به مونږه د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامان ولې درود نه لیږو؟ مونږ له هم پۀ کثرت سره درودِ پاک لوستل پکار دي!

نبی کی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو
محبو! پاؤ گے جنت میں گھر درود پڑھو

خدا تو بھیجے ہے صَلُّوا و سَلِّمُوا کا خطاب
تم ایسے بیٹھے ہو کیوں بے خبردرود پڑھو

فرشتے جاتے ہیں لے کر درود حضرت کو
اُدھر پہنچتا ہے جو تم اِدھر درود پڑھو

رسولِ پاک کے حق میں تو یہ بھی تھوڑا ہے
جو اُن کے نام پہ آٹھوں پہر درود پڑھو [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ شان

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نور فرمائي: چې کله د **الله پاک** پۀ دربار کښې حاضري وشوه، ما عرض وکړو: اے کریم مالِکه! ما د ابو بکر د اواز پۀ شان اواز واوریدلو، آیا هغۀ زما نه مخکښې دلته رارسیدلے دے؟ **الله پاک** وفرمائیل: ستاسو ورور حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ته چې کله د کلام کولو سعادت ورکړے شوے وو نو

1...اَلْیَوَاقِیْتُ وَالْجَوَاہِر، جزء:2، المبحث الرابع والثلاثون فی بیان صحة...الخ، صفحه:276 بتغیر قلیل-

2...نورِ ایمان، صفحه:56، 57 ملتقطاً-

د هغوئي د اَمسا خبري شوې وي ، ما وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَ مَاتِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ﴿۱۷﴾ (پاره:16، سورۂ طه:17) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او اے موسىٰ! دا ستا په ښي لاس كښې څۀ دي؟ |

دا ځكه چې د هغوئي پام د اَمسا طرف ته شي او زمونږه د كلام هيبت برداشت كړي- داسې تاسو د ابو بكر د اواز طرف ته مائله كړے شوئ ځكه چې ابو بكر په دُنيا او په اخرت كښې ستاسو محبوب دے- مونږه د ابو بكر په شكل يوه فرښته پيدا كړه، هغۀ ستاسو سره كلام وكړو د پاره د دې چې ستاسو د تنهايي احساس ختم شي او په تاسو زمونږه د بارګاه هيبت پاتې نشي- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښكلے شان دے: معلومه شوه چې د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت ابو بكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ ډير د اوچتې مرتبے والا صحابي دے او هغوئي په دُنيا كښې هم او په اخرت كښې هم د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړۀ د ارام او د سكون سبب دے-

ایک لمحے کو بھی رکھنا نہ تجھے خود سے الگ
اتنی مَحبُوب تھی سرورِ کائنات کو رفاقت تیری
بعد نبیوں کے نہیں کوئی بھی افضل تجھ سے
زیب دیتی ہے تجھے جائے امامت تیری

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د قُرب انتها

رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور فرمائي: چې كله ما د ابو بكر صِدِّيق (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ) د اواز په شان اواز واوريدلو، د هغې نه لږ مخكښې تير شوم نو **الله پاك** وفرمائيل: اُدْنُ يَا مُحَمَّد، اُدْنُ يَا مُحَمَّد، لِيَدْنُ الْحَبِيْبُ اے مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! رانزدې شۀ! اے

1...مواہب اللدنيه مع شرح زرقانی، ج:8، ص:197۔

مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! نور رانزدې شئ! پکار دي چې حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور رانزدې شي- بس الله پاک ما ته دومره قُرب راعطا کړو، لکه څنګه چې په قرآنِ کريم کښې راغلي دي: [1]

فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ۚ ﴿۹﴾ (پاره:27، سورۀ نجم:9)

**ترجمۀ کنزُ العِرفان:** نو د دوو کمانونو برابره بلکې د دې نه هُم کمه فاصله پاتې شوه-

يعنې د الله پاک نُور او مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير نزدې شول-

اعلٰی حضرت امامِ اهلِسُنّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې منظر کشي داسې کړې ده.

بڑھ اے مُحَمَّد، قریں ہو احمد، قریب آ سرورِ مُمَجَّدْ

نثار جاؤں، یہ کیا ندا تھی، یہ کیا سماں تھا، یہ کیا مزے تھے

**وضاحت:** يعنې اواز راغے: اے مُحَمَّد! اے احمد! اے د عزت والا سرداره! د نزدې نه زيات رانزدې شئ، اَللّٰهُ اَكْبَر! زۀ ترينه قربان شم څومره ښکلے اواز وو، څومره د لطف نه ډک کيفيت وو، څومره د خوند ماحول وو-

سُبْحٰنَ الله! زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره ښکلے شان دے، الله پاک ورته دومره قُرب عطا کړلو، دومره قُرب يې ورته عطا کړلو لکه د دوو کمانونو همره بلکې د دې نه هم کمه فاصله پاتې شوله- بيا دا قُرب څنګه وو؟ کوم قِسم وو؟ ولې وو؟ د دې د تفصيل نه مونږه څنګه خبريدے شو، دا خو به الله پاک ته بهتره معلومه وي يا محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به بهتره معلومه وي- د حضرت ابو عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه وشوه چې الله پاک چې دا وفرمائيل:

1... مواہب اللدنیہ مع شرح زرقانی، ج:8، ص:195۔

| | |
|---|---|
| فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ۚ﴿۹﴾ (پاره:27، سورهٔ نجم:9) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: نو د دوو كمانونو برابره بلكې د دې نه هُم كمه فاصله پاتې شوه- |

د دې تفصيل څهٔ دے؟ هغوئي ډير ښکلے جواب ورکړو، اوئې فرمائيل: زهٔ تاسو ته د داسې ځائے تفصيل څنګه بيانولے شم، د کوم ځائے نه چې حضرت جبرائيل، ميکائيل او اسرافيل عليهمُ السّلام هم لرې ساتلے شوي وو، هلته صرف **الله پاک** او د هغهٔ خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وو-[1]

| | |
|---|---|
| قصرِ دَنٰی کے راز میں عقلیں تو گم ہیں جیسی ہیں | رُوح الامیں سے پوچھئے! تم نے بھی کچھ سُنا کہ یُوں |

وضاحت: مقامِ دَنٰی (يعني د **الله پاک** پهٔ خاص قُرب کښې) د راز څهٔ خبرې وشوې، څنګه څنګه عُلُوم محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شول، پهٔ دې باره کښې خو عقل کار نهٔ کوي، عقل خو هډو پهٔ څهٔ پوهيږي نهٔ، لږ د جبريل عَلَيْهِ السَّلَام نه معلوم کړئ چې اے د فرښتو سرداره! اے د وحي امينَ! حضرت جبريله عَلَيْهِ السَّلَام! آيا تاسو څهٔ واوريدل چې هلته د راز کومې کومې خبرې شوې وې---؟

## سترګو وليدل او زړهٔ يې تصديق وکړو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې خلوتِ خاص (يعني خاص تنهايئ) کښې څهٔ وشول، د قرآنِ کريم نور بيان واورئ! **الله پاک** فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ﴿۱۱﴾ (پاره:27، سورهٔ نجم:11) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: زړهٔ هغې ته دروغ اُونه وئيل څهٔ چې (سترګو) وليدل- |

يعني د دوارړو جهانو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څهٔ وليدل، د هغوئي زړهٔ مبارک هم د هغې تصديق وکړو، مطلب دا دے چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل رَبِّ کريم د سَر پهٔ

---

1...حاشيه دردير، ص:59۔

سترګو باندې وليدلو، د زړۀ نه يــې وپيژندلو او پۀ دغه پيژندلو کښې هغوئي بالکل شک هم ونکـړو-[1]

اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ﴿۱۲﴾ وَ لَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴿۱۳﴾
(پاره:27، سورۀ نجم:12۔13)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو آيا تاسو هغۀ سره د هغۀ پۀ ليدلي شوي جګړه کوئ او هغۀ خو هُغه نظاره [جلوه] دوه ځله وليدله-

يعني رسولِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه جلوه صرف يو ځل نۀ بلکې بيا بيا وليدله-[2]

يہ عزّ و جلال اللہ! اللہ!، يہ اَوج وکمال اللہ! اللہ!
يہ حُسن و جمال اللہ! اللہ! معراج کو دولہا جاتے ہیں
اللہ کی رحمت سے سرور جا پہنچے دَنا کی منزل پر
اللہ کا جلوہ بھی دیکھا ، دیدار کی لذّت پاتے ہیں

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اللّٰه پاک د ديدار پۀ باره کښې حديثونه مبارک

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شبِ معراج پۀ ويښه وکړو، د خپل سَر پۀ سترګو پۀ پوره هوش او حواس کښې يــې د خپل رَبِّ کريم ديدار وکړو او پۀ داسې شان سره يــې وکړو چې

مَا زَاغَ الۡبَصَرُ وَ مَا طَغٰى ﴿۱۷﴾

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: سترګه نۀ کوم طرف

---

1...صراط الجنان، پاره:27، سورۀ نجم، زير آيت:11، جلد:9، صفحه:553۔

2...صراط الجنان، پاره:27، سورۀ نجم، زير آيت:1312، جلد:9، صفحه:555۔

تہ تاؤ شوہ او نۀ د حد نہ واوُختلہ- | (پارہ:27، سورۂ النجم:17)

❀ پۀ **مسند امامِ احمد** کښې د صحيح سند سره **حديثِ پاک** دے، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: رَأَيْتُ رَبِّيْ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى ما خپل رَبِّ کريم وليدلو-[1] ❀ امام دِيلَمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت جابِر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نہ روايت ليکلے دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ اللهَ اَعْطٰى مُوْسٰى الْكَلَامَ وَاَعْطَانِي الرُّؤْيَةَ بے شکه **الله پاک** موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام تہ د خپل کلام شرف ورعطا کړو او ما تہ يې د ديدار نعمت راعطا کړو-[2] ❀ د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نہ روايت دے: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم قَالَ لِيْ رَبِّيْ نَحَلْتُ إِبْرَاهِيمَ خُلَّتِي، وَكَلَّمْتُ مُوسٰى تَكْلِيمًا، وَأَعْطَيْتُكَ يَا مُحَمَّدُ كِفَاحًا- يعني رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ما تہ زما رَبِّ کريم وفرمائيل: ما ابراهيم خپل خليل جوړ کړو، موسیٰ تہ مې د خپل کلام شرف ورعطا کړو او اے خوږه **محبوبه** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! **تاسو تہ مې بغير د حجاب نہ د خپل ديدار شرف درعطا کړلو**-[3]

سُبْحٰنَ الله! د دې حديثونو نہ معلومه شوه چې پۀ ويښه، د سر پۀ سترګو بغير د څۀ پردې نہ د **الله پاک** ديدار کول، زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خصوصي شان دے- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

طُورِ موسیٰ، چرخِ عیسیٰ | کیا مساوِیٔ دَنیٰ ہو
سب جہت کے دائرے میں | شش جہت سے تم وَرا ہو
سب کی ہے تم تک رَسائی | بارگہ تک تم رَسَا ہو (4)

1…مسند امام احمد، مسند بنی ہاشم، مسند عبد الله بن العباس، جلد:2، صفحه:218، حديث:2631-

2…مسند الفردوس، جلد:1، صفحه:162، حديث:600-

3…تاریخ ابن عساکر، باب ذکر عروجه الی السماء…الخ، جلد:3، صفحه:517-

4…حدائقِ بخشش، صفحه 342 ملتقطاً-

وضاحت: حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ کوهِ طُور باندې د رَبِّ کريم کلام واوريدلو، حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ څلورم اسمان باندې تشريف فرما دے، دا ډيرې اوچتې مرتبے دي خو د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان ته وګورئ! هغوئي رَبِّ کريم لامکان ته وبللو او مقامِ دَنیٰ (يعنې ډير قُرب يـې ورته ورعطا کړو) او اوچت شانونه يـې ورته ورعطا کړل۔ د دې نه معلومه شوه چې ټول مخلوق د جهتونو په کربنه کښې دي خو زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جهتونو د کربنو نه هم بره هُغه ځائے ته تشريف يوړلو، هُغه ځائے ته "چرته" چې هيڅ هم نۀ وو۔ د ټولو رسائي يعنې رسيدل د خُدائے د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورې ده، هُم يو محبوبِ ذيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، د چا چې د رَبِّ کريم پۀ بارګاه کښې د حاضرئ سعادت نصيب شو۔

| | |
|---|---|
| اَوج پانا مرے حُضُور کا ہے | عرش جانا مرے حُضُور کا ہے |
| عرش سے بھی پرے وہ ہو آئے | آنا جانا مرے حُضُور کا ہے |

| | | | |
|---|---|---|---|
| مرحبا! مرحبا! | صاحبِ معراج | رحمتِ کبریا! | صاحبِ معراج |
| لطفِ حق ہو گیا! | صاحبِ معراج | شاہِ ہر دو سرا! | صاحبِ معراج |
| ہو مبارک شہا! | صاحبِ معراج | یا شفیعَ الوریٰ! | صاحبِ معراج |

*_*_*_*

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راز او د نياز خبرې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اللّٰه پاک** بارګاه ته ورسيدلو، پۀ وينبه، د سَر پۀ سترګو يـې د **اللّٰه پاک** د ديدار سعادت حاصل کړو، بيا هلته، پۀ دغه خاص تنهايئ کښې د راز او د نياز څۀ څۀ خبرې وشوې،

**الله پاک** فرمائي:

فَاَوْحٰۤى اِلٰى عَبْدِهٖ مَاۤ اَوْحٰىؕ۝۱۰ (پاره:27، سورۂ نجم:10)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بيا هغهٔ د خپل بنده طرف ته وحي وفرمائيله چې څهٔ وحي يې فرمائيله-

قصرِ دَنٰی کے راز میں، عقلیں تَو گم ہیں جیسی ہیں
رُوحِ قُدُس سے پوچھئے! تم نے بھی کچھ سُنا کہ یُوں(1)

وضاحت: مقامِ دَنیٰ (يعنې پهٔ هٰغه خاص قُرب کښې) د راز څهٔ خبرې وشوې، څنګه څنګه عُلُوم محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شول، پهٔ دې باره کښې خو عقل کار نهٔ کوي، عقل خو هډو پهٔ څهٔ پوهيږي نهٔ، لږ د جبريل عَلَيْهِ السَّلَام نه معلوم کړئ چې اے د فرښتو سرداره! اے د وحي امينَ! حضرت جبريله عَلَيْهِ السَّلَام! آيا تاسو څهٔ واوريدل چې هلته د راز کومې کومې خبرې شوې وې---؟

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم فراختيا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! **الله پاک** د مِعراج پهٔ شپه خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څومره عِلم عطا کړو؟ د دې خو هيڅ معلومات نشته، البته د بعضې روايتونو نه څهٔ اندازه لګيدے شي- **پهٔ روايتونو کښې دي:** خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي چې کله زهٔ د مِعراج پهٔ شپه پردهٔ غيب ته ورسيدم نو زما پهٔ خُله (مبارکه) کښې يو څاڅکے وکړے شو کوم چې د واورې نه ډير يخ او د مشکو نه زيات خوشبوداره وو، پهٔ دې څاڅکي کښې د اَوَّلين او آخرين (يعنې د مخکښينو وروستنو) عِلم موجود وو کوم چې زما پهٔ زړهٔ کښې

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:93-

واچولے شو۔ [1]

د دې مفهوم يو حديثِ پاک پۀ **ترمذي شريف** کښې هم دے، پۀ کوم کښې چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي چې د مشرق او د مغرب ( ***East & West*** ) پۀ مينځ کښې چې څۀ دي د هٰغه ټولو نه زۀ خبر شوم۔ [2]

عالَم میں کیا ہے جس کی کہ تجھ کو خبر نہیں | ذرّہ ہے کون سا تری جس پر نظر نہیں
یہ علمِ غیب ہے کہ رسولِ کریم نے | خبریں وہ دِیں کہ جن کی کسی کو خبر نہیں

## درې قِسمه عُلُوم

پۀ حديثِ پاک کښې دي، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د مِعراج پۀ شپه رَبِّ کريم ما ته مختلف قِسمه عُلُوم راعطا کړل ❀ پۀ دې کښې بعضې عُلُوم خو هغه دي د کومو چې د پټ ساتلو زما نه وعده واخستلے شوه ځکه زما نه علاوه پۀ هٰغه علومو څوک هم نشي پوهيدے ❀ بعضې علوم هٰغه دي د کومو پۀ باره کښې چې ما ته اختيار راکړے شو چې چا ته يې غواړې بيان يې کړه ❀بعضې علوم هٰغه دي د کومو چې د تبليغ کولو يعني هر خاص او عام ته د بيانولو حکم راکړے شوے دے۔ [3]

## اے گنهگارانو---!! هغوئي تاسو هلته هم هير نکړئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د **اللّٰه پاک** پۀ حُضُور کښې کيدونکې هٰغه د راز خبرې پۀ کومو کښې چې څۀ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته بيان کړلې، پۀ هغې کښې

---

1...نَادِرُ المعراج، باب بست و ششم دربيان رسيدن...الخ، فصلِ سوم، صفحه:277 ملتقطاً۔

2...ترمذی، کتاب تفسير القرآن، باب ومن سورة ص، صفحه:747، حديث:3234۔

3...مواہب اللدنيه، ص:381، ج:۲۔

يو روايت دا هم دے چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اللّٰه پاک** په بارګاه کښې حاضر شو نو رَبِّ کائنات وفرمائيل: **محبوبه!** چې څۀ غواړې وغواړه! سوال به ستاسو او عطا به زمونږه وي-

بيا د خُدائے **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته غوښتل خو وو خو لږ د **محبت** د ناز اظهار يـې وکړو، عرض يـې وکړو: ❁ يا **اللّٰه** پاکه! په فرښتو خو سجده حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته وکړے شوه، اوس زۀ څۀ وغواړم؟ رَبِّ کريم وفرمائيل: خوږه **محبوبه!** په اَصل کښې خو ستاسو نُور د هغوئي په تندي کښې ځليدلو، ځکه په هغوئي باندې هغۀ ته سجده وکړے شوه ❁ عرض يـې وکړو: اِلٰهی! زۀ اوس څۀ وغواړم--!! اوچت مقام خو حضرت ادريس عَلَيْهِ السَّلَام ته عطا کړے شوے دے- ارشاد وشو: **محبوبه!** هغوئي ته په اسمانونو کښې اوچت مقام ځکه ورکړے شو چې په نبیٔ شپه هغۀ تا ته هرکلے ووائي ❁ عرض يـې وکړو: مولیٰ! حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام خو مو نَجِیُّ اللّٰه جوړ کړے دے- اوئې فرمائيل: **محبوبه!** هغوئي هم ستاسو په وسيله دُعا کړې وه، ځکه د هغوئي دعا قبوله کړے شوه ❁ عرض يـې وکړو: مولیٰ! خليل خو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام جوړ کړے شوے دے؟ ارشاد وشو: خوږه **محبوبه!** ستاسو نُور د هغوئي په تندي کښې ځليدلو، ځکه هغوئي ته دا مقامات عطا کړے شول ❁ عرض وکړے شو: اے کريم مالِکه! تا خو کليم حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام جوړ کړے دے- اوئې فرمائيل: **محبوبه!** هغوئي ته په طُور غر باندې د کلام شرف عطا کړے شوے وو، او تاسو د مِعراج د پاره را اوبللے شوئ او تاسو ته د بغير د پردې نه د کلام شرف عطا کيږي ❁عرض يـې وکړو: مولیٰ! بے مثاله بادشاهت خو حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام ته عطا کړے شوے دے، ارشاد وشو: **محبوبه!** تاسو ته مقامِ محمود عطا کړے شوے دے-

دا لکه چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د طرف نه اظهار وو چې اے کريم مالِکه د ټولو نه اوچته مرتبه، د ټولو نه زيات شانونه، د ټولو نه زيات عظمتونه خو هم ما ته را عطا کړے شوي

دي، اوس باقي د غوښتلو څۀ پاتې دي، ځکه زۀ د خپل ځان د پاره هيڅ نۀ غواړم، آؤ! يو څيز دے کوم چې غوښتل دي، هغه څۀ دي؟ پۀ روايت کښې دي: محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عرض وکړو: يَا رَبِّ! فَاَقْبِلْ شَفَاعَتِيْ فِيْ عُصَاةِ اُمَّتِيْ يعنې اے الله پاکه! (چې آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته سجده زما د نُور پۀ وجه وکړے شوه، د نُوح عَلَيْهِ السَّلَام دُعا زما پۀ وسيله قبوله کړے شوه، إبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خليل زما د نُور پۀ برکت جوړ کړے شو، ما ته د موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام نه اوچت مقام راعطا کړے شو، ما ته مقامِ محمود راعطا کړے شو، چې دومره هر څۀ دې راعطا کړل نو بس اے کريم مالِکه!) بيا زما د ګنهګارانو اُمَّتيانو پۀ حق کښې زما شفاعت هم قبول کړه- الله پاک وفرمائيل: اے خوږه محبوبه! زما دې زما پۀ عزت باندې قَسم وي! ❀ چې ستاسو اُمَّتيان ګناه کوي نو زۀ به پرې پرده اچووم ❀ چې هغوئي زما نه بخښنه غواړي، زۀ به يې بخښم ❀ چې زما نه مدد غواړي، زۀ به يې مدد کووم ❀ او چې کله هغوئي زما نه سوال کوي نو زۀ به يې قبلووم-(1)

| | |
|---|---|
| بندوں کو کسی وقت بھی دِل سے نہ بھلایا | ہے اُمّتِ عاصی پہ عجب پیار تمہارا |
| اُمّت بھی تمہاری ہوئی اللہ کو پیاری | اللہ سے وہ پیار ہے سرکار تمہارا |
| اللہ نے وعدہ یہ کیا ہے شبِ معراج | دوزخ میں رہے گا نہ گنہگار تمہارا |
| اے عاصیو! تم اپنے گناہوں سے یہ کہہ دو | سرکارِ مدینہ ہے خریدار تمہارا |

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ---!! د الله پاک پۀ پاکه بارګاه کښې حاضري ده، پۀ خاص تنهايئ کښې د کلام کولو شرف عطا کيږي، رَبِّ کائنات چې د غوښتلو وفرمائيل نو خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څۀ وغوښتل---؟ زمونږه د غلامانو د بخښنې سوال يې وکړو-

1...البلبل الصادِی، ص:129-

سُبْحٰنَ الله!

معراج کی شب تو یاد رکھا ، پھر حشر میں کیسے بھُولیں گے
عطّار اسی اُمید پہ ہم دِن اپنے گزارے جاتے ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مِعراج شپه د اُمَّت د بخښني شپه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه چې د مِعراج روايتونه ولولو نو داسې ښکاري لکه چې دا د اُمَّت د بخښلو شپه وه- د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، چې كله خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيتُ الْمُقدَس ته تشريف وړلو، پهٔ لاره كښې يې د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات وشو، هغوئي فرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! پهٔ ننی شپه تاسو ته د رَبِّ كائنات د ملاقات شرف عطا كولے كيږي، ستاسو اُمَّت د ټولو نه اخري او كمزورے دے، ځكه كه د خپل اُمَّت وراني ودانول غواړئ نو نن يې وداني كړئ![1]

## د سُنَّتو نمونه جوړه شئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اوس دلته غور وكړئ! زمونږه آقا، كريم آقا، رحيم آقا، زمونږه غلامانو سره بے كچه محبت كوونكي آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مِعراج پهٔ شپه هم مونږه ګنهګاران هير نكړو، اوس زمونږه څهٔ حق جوړيږي---؟ آيا مونږه خپل خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هير كړو-؟ نهٔ! نهٔ---!! مَعَاذَ الله! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مونږ ته نصيحت كوي:

جو نہ بُھولا ہم غریبوں کو رضا | یاد اُس کی اپنی عادَت کیجئے!

اَللّٰهُ اَكْبَر! كوم خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې پهٔ يو وخت كښې هم مونږه هير نكړو،

---

1...مواہب اللدنیه، ص:380، ج:۲مع زرقانی۔

مونږ له هم پکار دي چې هر وخت هٔغه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يادوو ❁ چې جامې اغوندو نو يادول پکار دي چې زما محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به جامې څنګه اغوستلې؟ وړومبے به يې د ښي لاس لستونړے اغوستلو، بيا به يې بَل لستونړے اغوستلو، بيا به يې نور قميص پهٔ غاړه کولو ❁ چې کله پهٔ سَر باندې ويښته وه وينو نو يادول پکار دي چې زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به زلفې ساتلې، ما ته هم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ياد کښې زلفې يادول پکار دي ❁ چې کله پهٔ آئينه کښې خپل مخ وه وينو نو يادول پکار دي چې زمونږه د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو يو موتے ګيره مبارکه وه، ما ته هم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ياد کښې دا خوږ سُنَّت پهٔ خپل مخ باندې پريښودل پکار دي ❁ کله چې کور ته داخليږو نو يادول پکار دي چې محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به کور ته د داخليدو پهٔ وخت ښي ښپه مبارکه دننه کوله ❁ چې کله خوراک کوو نو يادول پکار دي چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ ناسته، ښي زنګون اوچت کړو، پهٔ بَل زنګون باندې به يې کيښودلو او خوراک به يې کولو، **بِسمِ الله** به يې لوستله او خوراک به يې کولو، چې دا سُنَّت مونږ ته هم ياد شي ❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څنګه ګرځيدلو؟ چې مونږه ګرځو نو د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ياد پهٔ زړهٔ کښې راتلل پکار دي

❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څنګه کښيناستلو؟ چې مونږه کښينو نو د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناسته پهٔ زړهٔ کښې رايادہ کړو ❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ بستره مبارکه باندې څنګه ارام فرمائيلو، چې کله مونږه اوده کيږو نو مونږ ته د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ياد راتلل پکار دي- داسې چې مونږه سُنَّت زده کړو، پهٔ دې باندې بيا بيا عمل وکړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ياد به

پهٔ زړهٔ کښې کور جوړ کړي ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! عشقِ رسول به زیاتیږي-

اب طرزِ زندگی تو ذرا سا بدل کے دیکھ | تُو سنتِ رسول کے سانچے میں ڈھل کے دیکھ
نقشِ قدم نبی کے ہیں جنت کے راستے | اللہ سے ملاتے ہیں سنت کے راستے
معیارِ خوبصورتی و خوب سیرتی | پنہاں حدیث میں ہے عَلَیْکُمْ بِسُنَّتِی

## پهٔ قافلو کښې سَفَر کوئ!

اوس به پهٔ ذهن کښې سوال راځي چې مونږه به دا سُنَّت څنګه زده کوو؟ پهٔ اوسني دور کښې به پهٔ دې سُنَّتو باندې عمل څنګه کوو؟ ډیره اسانه خبره ده، د عاشقانِ رسول سره پهٔ قافلو کښې د سفر کولو عادت جوړ کړئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د لاندې د 3 ورځو، 12 ورځو، یوې میاشت او 12 میاشتو قافلې سفر کوي، تاسو هم کم از کم هره میاشت د 3 ورځو پهٔ قافله کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قافلو پهٔ برکت باندې به زیات وخت پهٔ جومات کښې تیریدل نصیب کیږي ✿ پینځهٔ واړه نـمونځونه پهٔ جومات کښې د جَمعې سره ادا کول اسان شي ✿ د عِلمِ دِین د زده کولو او ښودلو برکتونه میلاؤیږي ✿ د ډیرو سُنَّتو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو جذبه نصیب کیږي ✿ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د قافلې پهٔ برکت سره کردار ښه کیږي، اخلاق ښه کیږي او د **الله پاک** پهٔ فضل سره د سُنَّتو د نمونې جوړیدو توفیق نصیب کیږي- ځکه هره میاشت کم از کم د 3 ورځو پهٔ قافله کښې د سفر کولو پوخ عادت جوړ کړئ!

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
چاہو گر برکتیں قافلے میں چلو | پاؤ گے عظمتیں قافلے میں چلو
بارہ مہ کیلئے تیس دن کیلئے | بارہ دن دے ہی دیں قافلے میں چلو
سنّتیں سیکھنے تین دن کیلئے | ہر مہینے چلیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم د محبت برکت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د مِعراج پهٔ شپه چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سِدرَةُ الـمُنتَهىٰ نه مخکښې تللو، حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام هلته ایسار شو، د مخکښې تللو نه یې معذرت وکړو، خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے جبریله! که د **الله پاک** پهٔ بارګاه کښې ستاسو څهٔ حاجت وي، څهٔ سوال وي نو وه وایئ---!

بیا د جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام ناشنا خواهش هم واورئ! عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! بس دومره خواهش دے چې کله د قیامت پهٔ ورځ ستاسو خوږ اُمَّت پهٔ پل صراط تیریږي نو ما ته د خپلو وزرو پهٔ پل صراط باندې د غوړولو اجازت راکړے شي-[1]

سُبْحٰنَ الله! د جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام خواهش هم څومره ښکلے دے، هغوئي ته معلومه وه چې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته اُمَّت ډیر محبوب دے، کیدے شي څکه یې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوشحالي غوښتله او داسې خواهش یې وفرمائیلو- بیا پهٔ روایتونو کښې دي چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **الله پاک** پهٔ بارګاه کښې حاضر شو نو د دې نه مخکښې چې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جبریل امین عَلَیْہِ السَّلَام حاجت بیانولو، **الله پاک** وفرمائیل: اَیْنَ حَاجَةُ جِبْرِیْلَ؟ یعنې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هغه جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام چې کوم خواهش کړے وو، هغه څهٔ دے؟ عرض یې وکړو: مولیٰ! تا ته ښه معلوم دے- **الله پاک** وفرمائیل: اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! قَدْ اَجَبْتُهٗ فِيْمَا سَاَلَ یعنې حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام چې څهٔ وغوښتل، هغه عطا کولے شي

---

1...مواہب اللدنیه، ص:381، ج:۲مع زرقانی-

(خو د هغوئي دا سوال د ټول اُمَّت پهٔ حق کښې قبول نهٔ دے بلکې) فِيْمَنْ اَحَبَّکَ وَ صَحِبَکَ يعنې چې کوم اُمَّتي ستاسو سره محبت کوي، ستاسو د صحابؤ سره محبت کوي، صرف پهٔ هغوئي باندې به دا عنايت کيږي (پهٔ پل صراط باندې به د هغوئي د پاره جبريل عَلَيْهِ السَّلَام ته د وزرو غوړولو اجازت ورکړے کيږي)- (مواهب)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې ځائے کښې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم پهٔ شان باندې ځان پوهه کړئ! د الله پاک هم د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږو صحابهٔ کرامو سره څومره محبت دے- د دې نه معلومه شوه چې څوک د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم سره محبت کوي، څوک چې عاشقانِ رسول دي، عاشقانِ اهلِ بيت دي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! پهٔ پل صراط باندې به پهٔ خير او سلامتيا سره تيريږي او جنَّت ته به داخليږي-

دو عالم نہ کیوں ہو نثارِ صحابہ | کہ ہے عرش منزلِ وقارِ صحابہ
امیں ہیں یہ قرآن و دینِ خدا کے | مدارِ ہدیٰ اعتبارِ صحابہ
نمایاں ہے اسلام کے گلستاں میں | ہر اِک گُل پہ رنگِ بہارِ صحابہ
کمالِ صحابہ، نبی کی تمنا | جمالِ نبی ہے قرارِ صحابہ

*_*_*_*

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| هر صحابيِ نبي! | جَنَّتي | جَنَّتي | ټولې صحابياتې هُم! | جَنَّتي | جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي | جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي | جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي | جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي | جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي | جَنَّتي | حسن او حُسين هُم | جَنَّتي | جَنَّتي |
| والِدَين د نبي | جَنَّتي | جَنَّتي | هره زَوجهٔ نبي | جَنَّتي | جَنَّتي |
| او ابو سُفيان هُم | جَنَّتي | جَنَّتي | دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي | جَنَّتي |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پۀ اُمَّت باندې نور عنايتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مِعراج پۀ شپه پۀ هٰغه خاص تنهایۍ کښې نورې څۀ خبرې وشوې؟ پۀ **روایتونو کښې دي: اللّٰه پاک** فرمائي: اے خوږه **محبوبه** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تر څو پورې چې تاسو جنَّت ته داخل نۀ شئ، تر هٰغه وخته پورې د ټولو نبیانو د پاره د جنَّت دروازه منع ده او تر څو پورې چې ستا اُمَّت جنَّت ته داخل نشي، پۀ ټولو اُمَّتونو باندې د جنَّت دروازه حرامه ده-

نور يـې وفرمائيل: اے **محبوبه** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږه تاسو ته حوضِ کوثَر عطا کړو، ټول جنتیان به ستاسو میلمانه وي، تاسو به د حوضِ کوثَر پۀ اوبو د ټولو جنتیانو میلمستیا کوئ-

سُبْحٰنَ الله! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه ارمان کوي:

گدا بھی منتظر ہے خُلد میں نیکوں کی دعوت کا | خُدا دِن خیر سے لائے سخی کے گھر ضیافت کا

**اللّٰه** دې وکړي چې زمونږه د ګنهګارانو بغير د حساب نه جنَّت ته داخليدل نصيب شي، کاش چې پۀ جنَّت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصيب شي او پۀ پاک مبارک لاس باندې د حوضِ کوثَر جام نصيب شي-

تمنّائے دِلِ اشرف بس اتنی ہے سرِ کوثَر | جب آقا جامِ کوثَر دیں، لبِ اَقدس لگا کر دیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د 5 نـمونځونو تحفه عطا شوه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مِعراج پۀ هٰغه تنهایۍ کښې رَبِّ کائنات نور عنایت وفرمائیلو چې د اُمَّت د پاره يـې د 50 نـمونځونو تحفه عطا کړله- وروستو د خوږ محبوب

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خواهش باندې هُغه 50 نـمونځونه 5 کړے شول- اوس دا پهٔ ادا کولو کښې 5 دي خو د ثواب پهٔ لحاظ سره 50 نـمونځونه دي-

## نـمونځ د مؤمِن مِعراج دے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نـمونځ څومره ښکلے عبادت دے چې خوږ آقا، زمونږه ښکلي نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله د معراج پهٔ شپه د خپل رَبّ د ملاقات د پاره تشريف وړلو نو بيا يې هم پهٔ 6 مختلفو ځايونو کښې نـمونځ ادا کړو، پهٔ مسجدِ اقصیٰ کښې يې يواځې نـمونځ ادا نهٔ کړو بلکې د هغوئي پهٔ امامت کښې انبيائے کرامو، رسولانو او فرښتو هم نـمونځ ادا کړو، هر اسمان ته چې ځي نو 2، 2 رکعته نـمونځ ادا کوي او د فرښتو امامتي کوي- او کله چې د رَبّ بارګاه ته ځي نو د نـمونځ رُکنِ اَعظم (يعني د ټولو نه لوئي رُکن) سجده ادا کوي د رَبّ سره د ملاقات نه پس چې کله واپس د خپل اُمّت طرف ته راځي نو د کائنات خالق چې خپل محبوب ته د اُمّت د پاره کومه ډالۍ عطا کړې ده هغه هم نـمونځ دے- د مِعراج پهٔ شپه صرف نـمونځ او نـمونځ دے چې ځي نو نـمونځ کوي او چې راځي نو د خپل اُمَّت د پاره نـمونځ راوړي- يعني پخپله يې هم معراج وکړو او د خپلو غلامانو د پاره يې هم د معراج ذريعه راوړله- آؤ جي! نـمونځ د مؤمِن معراج دے- پهٔ **مِرقَاة الـمَفَاتِيح** کښې دي: اَلصَّلَاةُ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِن نـمونځ د مؤمِن مِعراج دے-[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا څومره زبردست نعمت دے---! مونږ ته د نـمونځ ډالۍ ميلاؤ شوه او نـمونځ د مؤمِن معراج دے، اوس تر قيامته پورې پهٔ مسلمانانو باندې دا عنايت وشو چې پهٔ ژوند کښې يو ځل نهٔ، کال پس نهٔ، مياشت پس نهٔ بلکې هره ورځ پينځه ځله بنده اودس

---

1...مرقاةُ المفاتيح، کتاب الصلاة، صفحه:421، حديث:746۔

کوي، جومات ته حاضري کوي، پهٔ توجه سره، پهٔ عاجزئ او انکسارئ سره، د زړهٔ د اخلاصه نـمونځ کوي، د خپل خوږ **الله پاک** پهٔ بارګاه کښې حاضري کوي، سر پهٔ سجده شي او د **الله پاک** سره د کلام شرف حاصل کړي- سُبْحٰنَ الله! دا دے د مُسلمان مِعراج---!

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! لږ غور وکړئ چې د دنیا د بادشاهانو خوا له چې څوک نو ډیر څهٔ کوؤ خو دا څومره کرم دے، د ټولو جهانونو رَبِّ کریم، د خُدائے رحمان او رحیم پهٔ پاک دربار کښې حاضریدل وي نو هیڅ منع کیدل پکښې نشته، پاڅئ، اودس وکړئ، د خپل رَبّ پهٔ حُضُور کښې حاضر شئ- دا څومره عظیم نعمت دے کوم چې زمونږه د معراج پهٔ برکت نصیب شو، دا څومره عظیم نعمت دے کوم چې د رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ برکت پهٔ مونږه ګنهګارانو باندې وشو- سُبْحٰنَ الله!

## بِلاله! مونږ له راحت راکړه---!

حُضور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: کله چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج د پاره بوتللے شو او پهٔ مقامِ قُرب [پهٔ خاص قُرب] سره یې سرفراز کړو نو نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله پاک** پهٔ بارګاه کښې عرض وکړو: یا **الله** پاکه! اوس ما د بلاګانو کور (یعني دُنیا ته) واپس مهٔ لیږئ- **الله پاک** وفرمائیل: اے محبوبه! زمونږه حکم هم داسې دے، تاسو دُنیا ته واپس لاړ شئ چې ستاسو پهٔ ذریعه شریعت قائم شي او مونږ چې کوم څهٔ تاسو ته دلته عطا کړي دي، پهٔ دنیا کښې یې هم عطا کړو- هم دغسې چې کله نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنیا ته تشریف راوړلو نو چې کله به هم د هغوئي پهٔ زړهٔ کښې د اوچت مقام شوق راغلو نو فرمائیل به یې: اَرِحْنَا یَا بِلَالُ بِالصَّلَاةِ اے بلاله! د نـمونځ د پاره آذان وکړه مونږ له راحت راکړه---!

داتا حُضور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه نور فرمائي: زمونږه د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هر

نـمونځ به معراج وو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د **الله پاک** مهرباني پهٔ نـمونځ کښې ليدلې، د هغوئي رُوح مبارک به پهٔ نـمونځ کښې وو، زړهٔ مبارک به يـې پهٔ نياز کښې وو او باطِن به يـې پهٔ راز کښې وو- تر دې پورې چې نـمونځ د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو يخ والے جوړ شو- (1)

هر عبادت سے بَرتَر عبادت نماز ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز
قلبِ غمگیں کا سامانِ فَرحت نماز ہے مریضوں کو پیغامِ صحّت نماز
پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نماز
بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہئے آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نـمونځ او د مِعراج ياد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! نـمونځ د مِعراج ډالۍ هم ده، د مؤمن پهٔ حق کښې مِعراج هم دے او پهٔ دې ښکلې عبادت يعنې نـمونځ کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج ياد هم کېښودلے شوے دے- آؤ جي! علمائے کرام فرمائي: د مِعراج پهٔ شپه چې کله زمونږه خوږ آقا، د مدينے مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اللّٰهُ ربُّ العِزّت پهٔ بارګاه کښې حاضر شو نو عرض يـې وکړو: اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبَاتُ (يعنې ټول قولي فعلي او مالي عبادتونه د **الله پاک** د پاره دي) **الله پاک** د دې پهٔ جواب کښې وفرمائيل: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ (سلام دې وي پهٔ تا باندې اے نبي! او د **الله پاک** رحمتونه او برکتونه)، پهٔ دې باندې رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا عرض وکړو: اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ

1... كَشْفُ الْمَحْجُوب، صفحه:440 ملتقطاً وماخوذاً-

اِلله الصّٰلِحِیْنَ (سلام دې وي پۀ مونږه باندې او د **الله پاک** پۀ نیکانو بندګانو باندې)- [1]

چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج نه واپس تشریف راوړلو نو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمّت ته د اَلتَّحِیَّات تعلیم ورکړو او پۀ دې کښې یې هم دغه مُبارک کلمات وښودل، لکه چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے خلقو! نـمونځ ستاسو معراج دے نو ما چې پۀ معراج کښې د رَبِّ کریم سره کومې خبرې وکړې او واپس راغلم تاسو هم پۀ نـمونځ کښې هم هغه کوئ- [2]

## د معراج د تحفې قدر وکړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ټولې زمانې دستور دے چې خلق د تحفو [یعنې د ډالو] قدر کوي، خاص طور چې تحفه د غټ شخصیت نه میلاؤ شي نو هغه سمبال کیږدي او پۀ خپل قِسمت باندې ناز کولے شي- د دې اُلټا چې څوک د تحفو [یعنې د ډالو] قدر نۀ کوي یا د ډالۍ ورکوونکي مننه نۀ کوي نو دې خلقو ته پۀ معاشره کښې پۀ ښه سترګه نه کتلے کیږي- زۀ چې د کومې ډالۍ طرف ته ستاسو پام راګرځول غواړم هغه د مخلوق نۀ بلکې د کائنات د خالق **الله پاک** راکړے شوې [تحفه] ده کومه چې د معراج پۀ شپه د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ ذریعه مسلمانانو ته عطا کړے شوه، دا ډالۍ د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو سترګو یخ والے وګرځولو-

اوس مونږ ته غور کول پکار دي چې مونږ د دې معراج د ډالۍ څومره قدر کوؤ- آه! افسوس! نن سبا د نـمونځ هډو فِکر نۀ کیږي، زیاتره مسلمانان د نـمونځونو نه لرې دي او کوم چې نـمونځ کوي، پۀ هغوئې کښې هم یوه شمیره د داسې خلقو ده، کوم یې چې

1...مرآۃالمناجیح، جلد:2، صفحه:88-

2...مرآۃالمناجیح، جلد:2، صفحه:90-

کله کوي کله يــې نهٔ کوي يا دوه، درې يا څلور کوي، پينځه پوره نهٔ کوي، کوم چې پينځه واړه پوره کوي، پهٔ هغوئې کښې هم يوه شميره ده کوم چې جُمعه پرېږدي، پهٔ جومات کښې د جُمعې سره نــمونځ نهٔ ادا کوي- کاش! چې زمونږه د دې معراج د تخفې قدر نصيب شي-

## د معراج پهٔ شپه يــې عذاب وليدلو

پهٔ روايتونو کښې دي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج پهٔ شپه د داسې خلقو خوا له تشريف يوړلو د کومو سرونه چې به پهٔ کاڼو چقيدل، کله به چې هم هغهٔ وچقولے شول هغهٔ به د مخکښې پهٔ شان صحيح شول او دا سلسله به هم دغه شان روانه وه نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه: اے جبرائيله! دا څوک دي؟ عرض يــې وکړو: دا هُغه خلق دي د کومو سرونه چې به پهٔ نــمونځ کولو درَنيدل (يعنې فرض نــمونځونه به يــې) پريښودل- (1)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! که سر معمولي شان زخمي شي نو بنده درديږي نو مَعَاذَالله! د نــمونځ قضا کولو پهٔ شکل کښې که چرې د هغهٔ نازک سر فرښتو چقول شروع کړو نو د هغهٔ به څهٔ کيږي! کاش! کاش! کاش! چې ټول مسلمانان پاخه نــمونځ ګزاره جوړ شي-

| | |
|---|---|
| ہو گی دنیا خراب، آخرت بھی خراب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| بے نمازی جہنّم کا حقدار ہے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| قبر میں سانپ بچھو لپٹ جائیں گے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| سہہ سکو گے نہ دوزخ کا ہرگز عذاب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| دیکھو! اللہ ناراض ہو جائے گا | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |

1 ... مسند بزار، جلد:17، صفحه:5، حديث:9518-

## د قضا نـمونځونو طريقه د رسالې تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خدائے دې نۀ کړي که د چا نه نـمونځونه قضا شوي دي نو زر تر زره دې د هغې د ادا کولو کوشش وکړي- د قضا نـمونځونو د ادا کولو طريقه څۀ ده؟ د قضا نـمونځونو شرعي حکمونه او مسئلې څۀ دي؟ پۀ دې باره کښې د امير اهلسنّت مولانا الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه ډيره فائده منده رساله ده: **قضا نمازوں کا طريقه-** پۀ دې رساله کښې د قضا نـمونځونو د طريقې سره سره قضا نـمونځ دې پۀ کوم وخت کښې ادا کړے شي؟ قضائے عمري څۀ ته وئيلے شي؟ او د قضا نـمونځونو پۀ باره کښې فائده مند معلومات شامل دي- هم نن د مکـتبة الـمدينه نه دا رساله حاصله کړئ او دا ولولئ! **الله پاک** دې مونږ ته د دين د عِلم زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ خوب کښې د الله پاک د ديدار کولو وظيفه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه واوريدل چې **الله پاک** د مِعراج پۀ شپه خپل خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د خپل ديدار شرف عطا کړلو او صرف يو ځل نۀ بلکې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو نه زيات ځل د **الله پاک** د ديدار شرف حاصل کړو- دلته دا خبره ياد ساتئ چې پۀ دُنيا کښې پۀ ويښه، د سر پۀ سترګو باندې **الله پاک** ليدل، صرف او صرف زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خصوصي شان دے، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه علاوه پۀ دُنيا کښې څوک هم پۀ ويښه د سر پۀ سترګو د **الله پاک** ديدار نشي کولے- البته پۀ دُنيا کښې د خوب پۀ حالت کښې د **الله پاک** ديدار نصيب کيدل ممکن هم دي او د ډيرو علمائے کرامو دا شرف نصيب

شوے هم دے، مثلاً زمونږه د امام، امامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه پهٔ خوب کښې د **اللّٰه پاک** ديدار نصيب شو، [1] د امام احمد بن حنبل رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه پهٔ خوب کښې 100 کرته د **اللّٰه پاک** د ديدار سعادت نصيب شو- [2]

مدعا دا ده چې پهٔ دُنيا کښې د خوب پهٔ حالت کښې د **اللّٰه پاک** ليدل ممکن دي، مونږ له هم پکار دي چې پهٔ خپل زړهٔ کښې د **اللّٰه پاک** د ديدار کولو شوق زيات کړو- پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: مَنۡ اَحَبَّ لِقَآءَ اللّٰهِ اَحَبَّ اللّٰهُ لِقَآئَهٗ خوک چې د **اللّٰه پاک** سره ملاقات خوښوي، **اللّٰه پاک** د هغهٔ ملاقات خوښوي- [3]

علمائے کرام رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡهِم فرمائي: **(1)**: څوک چې روزانه د سورهٔ آلِ عمران تلاوت کوي او اوده کيږي اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! يو نه يو ورځ به يې پهٔ خوب کښې د **اللّٰه پاک** ديدار نصيب شي **(2)**: او څوک چې د 40 جُمعو پهٔ شپو (يعني د زيارت او د جمعةُ الـمبارک پهٔ مينځنۍ شپه کښې ) سورهٔ طٰهٰ ولولي، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! پهٔ خوب کښې به يې د **اللّٰه پاک** ديدار نصيب کيږي- [4]

## شعبان شريف د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مياشت ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! **شعبان شريف** هُم تشريف راوړونکې ده، ډيره د برکتونو، عظمتونو والا مياشت ده خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې ته **شَهرِی** يعنې زما مياشت فرمائيلې ده، ځکه شعبان ته د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مياشت هم وئيلے کيږي ❀ شعبانُ الـمعظم څنګه تيرول پکار ده---؟ ❀ پهٔ دې کښې څهٔ نيک اعمال

---

1...اشعة اللمعات، باب رویة الله تعالیٰ، جلد:4، صفحه:425۔

2...حیاة الحیوان الکبریٰ، باب الهمزة، الانسان، جلد:1، صفحه:58۔

3...الزهد لابن المبارک، الجزء السابع، باب فضل ذکر الله، صفحه:290، حدیث:971۔

4...تحفه معراج النبی، صفحه:183۔

کول پکار دي--؟ ❀ د دې څهٔ فضائل دي--؟ ❀ د دې برکتونه څهٔ دي--؟ د دې ټولو نه د ځان خبرولو د پاره د شيخِ طريقت اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه رساله **آقا کا مهينه** ضرور ولولئ-

## د 27 رَجَب د روژې ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! روژه د جسماني صحت ضمانت هم ورکوي او د روحاني صحت ضمانت هم ورکوي- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د **رَجَبُ الۡمُرَجَّب** د برکت نه ډکه مياشت خپل برکتونه تقسيموي، د لکه چې د نفلي روژو سپرلےشروع دے، مونږ له پکار دي چې د دې برکتي ورځو نه فائده واخلو او ښې ډيرې روژې ونيسو، نيکئ هم وکړو او د روژې نيولو د فضيلت حقدار هم جوړ شو- راځئ چې د ترغيب د پاره د **27 رَجَبُ الۡمُرَجَّب** د روژې فضيلتونه واورو: ❀ حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: څوک چې د 27 رجب روژه ونيسي، **الله پاک** به د هغهٔ د پاره د شپيتوو [60] مياشتو د روژو ثواب وليکي-[1] ❀ د حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے: د **الله پاک** اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په رجب کښې يوه ورځ او شپهٔ ده څوک چې پهٔ هٰغه ورځ روژه ونيسي او د شپې قيام (عبادت) وکړي نو لکه چې هغهٔ سل [100] کاله روژې ونيولې او دا د رَجَب اوويشتم [27] تاريخ دے-[2]

## د شعبان شريف د روژو فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د **شعبان شريف** مياشت هم تشريف راوړونکې ده- دا مياشت هم ډيره د برکتونو، عظمتونو والا ده، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

---

1...فضائل شهر رجب للخلال، صفحه:76، حديث:18-

2...شعب الايمان، جلد:3 صفحه:374، حديث:3811

مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په دې مياشت کښې په کثرت سره روژې نيولې- په دې مياشت کښې هم د نفل روژو په کثرت سره د نيولو ذِهن جوړ کړئ! ❁ د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِّيقه طيبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما د شعبان نه په بله مياشت کښې په زياتو روژو نيولے نۀ دے ليدلے، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د يو څو ورځو نه علاوه د مياشتې ټولې روژې نيولې- [1]
❁ يو ځل د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه وشوه: د رمضان نه پس کومې روژې افضلې دي؟ اوئې فرمائيل: **د رمضان د تعظيم د پاره د شعبان روژې نيول-** [2]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د عاشقانِ رسول د دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي په دِيني ماحول کښې په **شعبان شريف** کښې هم د روژو سپرلے وي، په مختلفو ځايونو کښې د پيشمني اجتماعات هم کولے شي، مَاشَآءَ الله! ډير عاشقانِ رسول په کثرت سره روژې نيسي او پرله پسې روژې نيسي او د **رمضان شريف** سره ميلاؤيږي- تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره مضبوط تړون پيدا کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیۡم! د مِعراج د فيضان سره سره به مو د **شعبان شريف** او د **رمضان شريف** ښه ډير برکتونه نصيب شي، **الله پاک** دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اعتکاف ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت هُم راتلونکې ده- اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** ډيره د برکتونو والا مياشت، د رحمان مياشت، د قرآن د

1...ترمذی، کتاب:الصوم، باب:ماجاء فی وصال شعبان برمضان، صفحه:206، حديث:736-
2...ترمذی، کتاب: زکوٰة، باب: فضيلتِ صدقه، صفحه:189، حديث:663-

نازليدو مياشت او د بخښنې مياشت ده-

| | |
|---|---|
| عَجِّلْ عَجِّلْ يَارمضان | جان مری تجھ پر قربان |
| آ بھی جا ماہِ سُبْحٰن | جلدی جلدی آ رمضان |
| جب بھی آتا ہے رمضان | جان میں آجاتی ہے جان |
| خوب ہے رمضاں کی بھی شان | اِس میں اُترا ہے قرآن |
| مجھ کو مدینے میں رمضان | کاش! میسر ہو رحمٰن |
| آجا آ بھی جا رمضان | تجھ پہ فدا عطّارؔ کی جان |

**الله پاک** دې زمونږه د رَمَضَانُ المُبَارَک د ليدلو، پۀ دې کښې د ښو ډيرو روژو د نيولو، د ښه ډير عبادت کولو توفيق رانصيب کړي- د رَمَضَانُ المُبَارَک يو ډير اهم عبادت اعتکاف هم دے- نفل اعتکاف خو هر وخت کيدے شي خو کوم اعتکاف چې سنّتِ مؤکده دے، هغه صرف پۀ **رَمَضَانُ المُبَارَک** کښې کيږي- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د رَمَضَانُ المُبَارَک د ټولې مياشتې اعتکاف هم ثابت دے او د اخري عشرې اعتکاف خو زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير زيات خوښ وو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اخري عشرې د اعتکاف ډير اهتمام فرمائيلو- تر دې پورې چې يو ځل يـې پۀ څۀ وجه د **رَمَضَانُ المُبَارَک** اعتکاف ونکړے شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شوال کښې اعتکاف وفرمائيلو- [1]

## د اعتکاف فضائل

✿ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه، طيبه طاهره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے:

1...بخاری، کتاب الاعتکاف، باب الاعتکاف فی الشوال، صفحه:533، حديث:2041۔

مَنْ اِعْتَكَفَ اِيْمَاناً وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ يعنې چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو پۀ نيت اعتکاف وکړو د هغۀ وروستني ګناهونه به اوبخښلے شي-[1] ❁ **پۀ يو بل روايت کښې دي**: چا چې پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې لس ورځې اعتکاف وکړو هغۀ داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يې وکړې-[2]

## د اجتماعي سُنَّت اعتکاف ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک پۀ ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د فيضان موندلو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د خارنې لاندې پۀ ټوله دنيا کښې پۀ زرګونو ځايونو کښې اجتماعي اعتکاف هم کولے شي، تاسو هم کوشش وکړئ چې د روژې د ټولې مياشتې د اعتکاف سعادت حاصل کړئ! بلکې پۀ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچۍ) کښې اعتکاف وکړئ! چې هلته به مو د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د وخت د يو کامِلِ وَلي سره د اعتکاف کولو سعادت نصيب شي نو د دې برکتونه به هُم جدا وي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** کښې به د ګناهونو نه د بچ کيدو، د نيکو کولو، د نفل عبادتونو شوق زياتيدو سره سره ډير عِلمِ دِين هم زده کړئ، راځئ چې د ترغيب د پاره د اجتماعي اعتکاف يو مَدَني سپرلے واورو:

---

1...جَامِع صغِير، صفحه:516، حديث:8480۔

2...جَامِع صغِير، صفحه:516، حديث:8479۔

## د ګناهونو نه پۀ ډک ژوند کښې يې سپرلے راغلو

د ډيره الله يار (صوبه بلوچستان، پاکستان) د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده: زۀ مخکښې د ګناهونو پۀ ډنډه کښې انختے ووم، فلمونه کتل او بد نظري وغيره زما د خوښې کارونه وو، يو ځل د يو عاشقِ رسول اِسلامي ورور سره زما ملاقات وشو، هغوئي د محبت نه پۀ ډک انداز کښې ما له پۀ اِجتماعي سُنّت اعتکاف کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، د هغوئي د حکمت نه ډک او ښکلے انداز چې مې وليدلو نو زما پۀ زړۀ اثر وشو او زۀ د رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ اِجتماعي اعتکاف کښې د شرکت کولو د پاره فيضانِ مدينه ته لاړم۔ پۀ اعتکاف کښې د مبلغينو اِسلامي ورونړو د سنتو نه ډکو بيانونو، زړۀ راښکونکو مناجاتو او ژړيدونکو دُعاګانو زما د زړۀ دنيا بدله کړه، ما د تيرو ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اِسلامي پاک ديني ماحول ته راغلم، د دې پۀ برکت زما پۀ کردار او خبرو کښې مثبت بدلون راغلو، ما عمامه شريف هم پۀ سر کړه، د سُنّت مطابق مې ګيره مبارکه هم پريښودله او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نمونځونو پابندي مې هم شروع کړه۔

| | |
|---|---|
| آئيں گی سُنّتيں، جائيں گی شامتيں | مدنی ماحول ميں کر لو تم اعتکاف |
| تم سدھر جاؤ گے، پاؤ گے برکتيں | مدنی ماحول ميں کر لو تم اعتکاف |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ پۀ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ تقريباً **د 16500 نه زيات** جامعات او مدارسُ

الــمدینه د هلکانو او جینکو *(Boys & Girls)* ماشومانو د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (*Specialization*)، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الــمدینه (بوائز اینډ ګرلز) د طالبِ علمانو شمیره څه کم یا زیاته **5 لاکهه 23 زره** ده ❁ د زیات عمر اِسلامي ورونړو او خوئیندو ته د قرآنِ کریم تعلیم ورکولو د پاره اوسه پورې تقریباً د **68 زره نه زیات** مدارس الــمدینه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د لوستونکو شمیره تقریباً 4 لاکهه ده ❁ د فیضان آن لائن اکیډمی پهٔ ذریعه تقریباً 24 زره طالبِ علمان دیني تعلیم حاصلوي ❁ اوسه پورې تقریباً **21 دار الافتاء اهلسنت** جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د شرعي رهنمایو شمیره د میاشتې **اوسطاً 20 زره** ده ❁ د **الــمدینةُ العلمیه** *(Islamic Research Center)* پهٔ ذریعه پهٔ دیني لټریچر باندې تحقیقي کار کیږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې پهٔ **1784 کتابونو او رسالو** باندې کار شوے دے، پهٔ دې شعبه کښې ګڼ شمیر مَدَني علمائے کرام فریضې ترسره کوي، د **الله پاک** پهٔ کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګاني ورکوي ❁ د دیني لټریچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره **مکـتبة الــمدینه** جوړه کړې ده، چرته چې پهٔ بهترین او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسیمِ رسائل (یعنې د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسیم کولو) سلسله هم وي ❁ پهٔ ټوله دُنیا کښې د دیني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظمي سیټ اپ دے، د ذیلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُورٰی پورې یو نظام جوړ دے، ښار پهٔ ښار، کلي پهٔ کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول تربیت کولے شي او دوئي د دیني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته لیږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګاني ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (یعنې د ګټې نه بے پروا) کیدو سره د دِین خدمت کوي ❁ د میډیا

مختلف پليټ فارمز، مثلاً ❀ پرنټ ميډيا (يعني ماهنامه فيضانِ مدينه کومه چې دا وخت په **7 مختلفو ژبو کښې** چاپ کيدونکې کثير الاشاعت مياشتنۍ [يعني ماهنامه] ده د دي په ذريعه) ❀ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب (***YouTube***)، فيس بک (***Facebook***)، انسټاګرام (***Instagram***) وغيره باندې موجود تقريباً 100 اکاؤنټس، په کومو باندې چې) تقريباً 50 ملين (***Million***) يعني 5 کروړه فالورز (***Followers***) دي او د ويوز شميره د بلينز (***Billions***) يعني د 100 کروړه نه هم زياتو پورې رسيدلې ده- ❀ او مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل په ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❀ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې **32 موبائل ايپلي کيشن** او **40 اِسلامک ويب سائټس** جوړ کړے شوي دي ❀ په ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د خير خواهۍ د پاره د ايف جي آر ايف (***Faizan Global Relief foundation***) شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې ❀ **د 30 لاکهه نه زياتې** وَنې نالې کړے شوې دي ❀ تقريباً د **60 لاکهه** ګسانو امداد کولے شي ❀ د **5 زرو** نه زيات کورونه جوړ کړے شوي دي ❀ د **75 زرو** نه زياتې د وينې ډراپونه عطيه کړے شوي دي ❀ هيلتهـ کئير سنټر ته اوسه پورې د **32 زره** نه زيات مريضان راغلي دي-

**تاسو هم د دين د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښيګړې په کارونو کښې لګيدے شي-**

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن پۀ نوم د "**فيضانِ حديث**" پۀ ***Play Store*** او ***App Store*** باندې وړاندې کړے شوے دے- پۀ دې ايپلي کيشن کښې تاسو د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ❀ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ❀ الأربَعِيْنِ النّووِيَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❀ **رِياضُ الصَّالِحِين** د اُردو ترجمې او شرحې سره ❀ أَربَعِيْنِ حَنَفِيَّه (اردو) ❀ او مُنْتَخَب اَحَادِيث (اُردو) شامل کړے شوي دي- ❀ د دې ايپلي کيشن پۀ مدد سره تاسو حديثونه مبارک پۀ کتابي شکل کښې (يعني د جلدونو پۀ لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو پۀ لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❀ د سرچ آپشن [يعنې د لټولو آپشن] پۀ مرسته حديثونه مبارک لټولے هم شئ- ❀ پۀ دې کښې د حديثِ پاک د عربي متن د اعرابو سره او د اعرابو نه بغير، پۀ دواړه قِسم د کتلو سهولت کيښودے شوے دے ❀ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حديثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❀ د مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او د حديثونو د شيئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے- هم نن پۀ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د حديثِ پاک فيضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ رَجَب کښې لوستونکې دُعا

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! د رَجَب **شريف** مبارکه مياشت روانه ده، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رمضان

مياشت ډيره رانزدې شوې ده، د نبيانو د نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم انداز مبارک وو چې د رَجب مياشت به کله تشريف راوړلو نو دا دُعا به يـې لوستله:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَان

**ترجمه:** اے الله پاکه! تهٔ زمونږ د پاره پهٔ رَجَب او شعبان کښې برکتونه عطا کړې او مونږ تر رمضان پورې ورسوې-[1]

راځئ چې مونږه هم دا دُعا ولولو:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَان

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## يو څو ضروري اِعلانات

- د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه پهٔ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس به (تقريباً 8:30 بجې) پهٔ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ
- **خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږه د معراج يو څو واقعات د اوريدلو سعادت حاصل کړو، يقيناً معراج شريف زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معجزاتو يوه لويه مجموعه ده، د دې معجزاتو د تفصيل حاصلولو د پاره د مکتبةُالمدينه کتاب **فيضانِ معراج** ولولئ. دا کتاب د مکتبةُالمدينه د هر شاخ نه په **90 روپۍ** په بيعه واخلئ پخپله يـې هُم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

---

[1]...مُسْنَدِ بزّار، جلد:13، صفحہ:117، حديث:6496-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اوبو څښلو سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د اوښ په شان په يوه ساه څښل مهٔ کوئ بلکې دوه يا درې ځل (د ساه اخستو سره) څښل کوئ او د څښلو نه مخکښې بِسْمِ الله لولئ او په فارغيدو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ!- [2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! که اوبه وي او که د څښلو بل څهٔ څيز ✿ د څښلو نه مخکښې بِسمِ الله لولئ ✿ وړوکے وړوکے ګوټ کوئ، د غټ ګوټ کولو سره د ځيګر بيماري پيدا کيږي ✿ اوبه په دريو ساه ګانو کښې څښئ او په ښي لاس يـې څښئ ✿ که په لوټه وغيره مو اودس کړے وي نو د هغې نه د پاتې شوو اوبو په څښلو کښې د 70 مرضونو شِفا ده چې دا د آبِ زم زم شريف مشابهت لري، د دې دوؤ (يعني د اودس نه د پاتې شوو اوبو او د زم زم شريف) نه علاوه هرې اوبه په ولاړه څښل مکروه عمل دے، دا دواړه قِسمه اوبه قبلې طرف ته د مخ کولو سره په ولاړه څښئ ✿ د څښلو

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2... ترمذی، کتاب الاشربة، صفحه:464، حديث:1885-

نه مخکښې يــې ښه وګورئ چې د څښلو په څيز کښې څۀ ضرر رسوونکـے څيز خو نشته ❀ د څښلونه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ ❀ امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د بِسْمِ الله سره اوبو څښل شروع کوئ، د وړومبی ساه په اخِره کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د دويمې نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن او د دريمې ساه نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم لولئ- دا يو ښه کار دے، که ونکړے شو نو هم پکښې څۀ باک نشته او په شروع کښې د بِسْمِ الله وئيلو او په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره په ختمولو به هم سُنَّت ادا شي ❀ په ګلاس کښې پاتې شوې د مسلمان پاکې جوټه اوبه د استعمال قابل کيدو باوجود هسې نۀ دي توئې کول پکـار ❀ منقول دي: سُؤْرُ الْمُؤْمِنِ شِفَاءٌ يعنې د مسلمان په جوټه کښې شِفا ده ❀ د څښلو نه لګ سعت پس چې خالي ګلاس ته وګورئ نو د هغې د اړخونو نه به يو څو څاڅکي په بيخ کښې جمع شوي وي، هغه هم څښل پکـار دي- (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

آؤ مدنی قـافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنتیں سیکھیں گے اِس میں ان شاء اللہ سر بسر
مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پَرْوَردگار | سنتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار (2)

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1…550 سنتيں اور آداب، صفحه:16-
2…وسائل بخشش، صفحه:635-